zhwak.com

ع. عمر خیل

# دعالم زعامت په تکل کې

دغم خپره وطن کې ننداره ده
د جهل او رڼا ترمنځ جګړه ده

ځورېږي وطنوال لري دردونه
دفقر او بې وزليو ولوله ده

دې تورو او لو تمارو ګڼ ځواکونو
وطن کې لګ::ولې سره لمبه ده

هيواد مو دي ويجاړکورګي مو ړنګ دي
رپانده د شهيد په ګور جنډه ده

روا ن دلته سازش او مصلحت دي
فساد او نا امني دلته خپره ده

کړ کۍ د هيلو بشپړ ې ترلې
غم خور د خلکو نشته توره شپه ده

زما ن د و يښېدو د ي و طنوالو
د مور وطن دا چيغه دا نعره ده

وطن ژغو رو له تورو غلو لوټما رو
که نه نو نوره ختمه مو کيسه ده

وطنه وطنوا ل نن ښه پوهېږی
موده د کرغېړ نو او س پوره ده

راځي چې د رڼا په لور روا ن شو
تورتم کې نغښتې لويه اند پښنه ده

مونږ يو موټی قدرت ته هيله من يو
د نر ښځې د ې کار ته تلوسه ده

سمسور به دبچو خپلو په مټ شي
د پو هو وطنوالو دا وعده ده

وطن ته به عالم زعامت ټاکو
د دې زړو او غلو نه مو توبه ده